AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال او شنانند: نظرمحمد مطمئن ۲۰۲۰/۱۲/۱۳

# د سولې مذاکرات په کور دننه؛ کله او چیرته؟!

د ډسمبر پر ۱۲مه، د ملي امنیت شورا مشر ډاکټر حمدالله محب پر ټویټر له طالبانو غوښتنه وکړه چې د سولې مذاکراتو پاتې پړاوونه دې په هیواد کې دننه سرته ورسوي، تر څو د سولې بهیر د بهرنیو د غوښتنو پر ځای د افغان ټولنې له غوښتنې برخمن، او بهر کې د سولې بهیر افغان ګټې نه خوندي کوي.

تر دې مهاله طالبانو غبرګون نه دی ښودلی، مګر د افغان حکومت مشر ډاکټر غني او نورو لوړ پوړو چارواکو پخوا او په پرله پسې ډول له طالبانو غوښتي چې په کور دننه د سولې مذاکرات مخکې یوړل شي.

داچې د طالبانو او افغان حکومت پلاوو ترمنځ پر کړنلاره دوه میاشتې چنې ووهل شوې، بالاخره د افغان حکومت پر پلاوي د خلیلزاد او ځینو اروپایي هیوادونو اغیز له امله کړنلاره د طالبانو د غوښتنو په نظر کې نیولو سره ومنل شوه، په داسي حال کې چې ډاکټر غني د افغان حکومت پلاوي لخوا د کړنلارې پر دغه ډول منلو راضي نه و، که مذاکرات په کور دننه وای، حکومت فکر کوي چې بیا به د بهرنیانو دومره زیات فشار نه منل کیدای.

مګر افغان حکومت سره چې په کور دننه ۵۰۰۰ طالب بندیان په زندانو کې وو، بیا یې هم ونه شوای کولای چې د امریکا فشار ته ځان ټینګ کړي، بالاخره یې د طالبانو ټول بندیان د امریکا د فشار له امله ور خوشې کړل.

دا به ښه وي چې داسې شرایط چمتو شي چې د سولې مذاکرات په کور دننه وشي، او ددې امکان هم شته چې د سولې مذاکراتو د پریکړو د پای خبرې په کور دننه وشي او اعلان شي. طالبانو هم نه ده رد کړې چې په کور دننه له خبرو ډډه کوي، بلکې د ناسمو شرایطو او په هیواد کې د امریکا او ناټو پوځیانو شتون په دې برخه کې لوی خنډونه ګڼي.

د مذاکراتو د کړنلارې اړوند، پرته له شکه چې پر حکومتي پلاوي د امریکا، اروپایي هیوادو او نړیوالې ټولنې فشار وو، بلخوا پر طالبانو هم د امریکا په غوښتنه د قطر او پاکستان فشار ورځ تر بلې زیاتیده. که څه هم د مذاکراتو په جریان کې د افغان حکومت پلاوي غوښتل چې له دوحې کابل ته ولاړ شي، مګر د امریکا د فشار له امله هغوی تر دې مهاله هلته پاتې دي.

مګر په کور دننه د سولې مذاکراتو بهیر باندې به ممکن د پاکستان، ایران او هند لا زیات ژور او د یادو هیوادو په کټه اغیز شتون ولري.

**ولې طالبان دا مهال په کوردننه مذاکراتو اړوند اندیښنه لري؟**

لومړی پوښتنه داده چې مذاکرات به په کابل، کندهار، هلمند، جلال اباد، مزار شریف، هرات او یا کوم بل ځای کیږي، که فرض کړو کابل، پرته له شکه چې د حکومت تر اغیز لاندې به مذاکرات مخکې وړل کیږي، او هلته چې د نړیوالو استخباراتو قوي جال شتون لري، داچې مذاکرات د طالبانو لومړی کتګوري مشران مخکې وړي، ډیری یې د رهبرې شورا غړي او د کمیسونو مشران دي، هغوی به ځان مصؤن ونه ویني، دارنګه له خپلو نورو مشرانو سره د مشورو او وراندیزو لپاره چې کوم مخابراتي وسایل او لارې چارې مخکې وړي، د هغوی څارنه به د حکومت او نړیوالو استخباراتو لخوا کیږي، که څه هم په قطر او یا بل هر ځای کې هم مخابراتي سیستمونه ډیر مصؤن نه دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د طالبانو تګ راتګ، چېرته ځي او له کومه ځايه راځي، دابه بله ستونزه وي، چې کيدای شي د لاري په اوږدو کې مشکلات ورته پيدا، او که هوايې لارې کاروي، بيا به يې په اړه ناسم او منفي تبليغات ډير او کيږي.

او مهمه پکې داده چې طالبان کيدای شي فکر کوي که د افغان حکومت تر واک لاندي سيمه کې مذاکرات کيږي، نو يو ډول حکومت ته مشروعيت هم ورکول کيږي، چې تر دي مهاله طالبان حکومت نه مني، او حکومت د طالبانو امارت نه مني.

او بله خبره داده طالبان وايې چې لا هم هيواد اشغال دی، د امريکا او ناټو پوځيان شتون لري، نو په دغسي حالت کې چې دوی د پرديو ځواکونو لخوا هيواد اشغال ګڼي، بيا به ورته ګرانه وي چې په هيواد کې دننه د حکومت تر واک لاندي سيمو کې مذاکرات وکړي.

افغان حکومت ته به هم اسانه نه وي، او ممکن وېي نه مني چې د طالبانو تر واک لاندي سيمو کې دي مذاکرات مخکې يوړل شي، ځکه لا هم د افغان حکومت او طالبان ترمنځ بې باوري شتون لري، او دا ډول تړون نشته چې پر يو بل لوري به بريد نه کيږي. او د طالبانو تر واک لاندي سيمو ته د بهرنيو څارونکو او لوړ پوړو چارواکو تګ راتګ به هم ستونزمن وي.

دا ممکن ده چې کوم ولايت او يا سيمه د سولې په نوم ونومول شي، او د افغان سولې وروستي پړاونه او پريکړې همهلته وشي.

د طالبانو او امريکا ترمنځ تړون کې هم يومخې داسي نه ده چې پر يو بل به بريد نه کيږي، د امريکا – طالبانو له تړون وروسته لا هم سرغړونې او بريدونه پر يو بل شوي، او طالبان به په سخته پر امريکا، ناټو او افغان حکومت باور وکړي، که کوم وخت مذاکراتو کې بن بست راځي، نو بيا به بريد او يا ورته فشار د نړيوالو لخوا نه کارول کيږي، او يا به د ښکېلو اړخونو لخوا تاوتريخوالی نه زياتيږي.

که په مذاکراتو کې پرمختګ، ځينې توافقات وشي، او که بالاخره د ښکېلو لورو لخوا اوربند ومنل  شي، نو بيا په کور دننه مذاکراتو ته لا ډيره زمينه برابريږي.

د طالبانو او حکومت ترمنځ مذاکرات بالاخره اسانچاري او دريمګړي ته اړتيا لري، دا مهال قطر هيواد د امريکا په بشپړ ملاتړ همدا چاره مخکې وړي، مګر په کور دننه د افغانانو سياسي او قومي ډلې داسي قوي جوړښت نه لري چې د ښکېلو اړخونو ترمنځ اسانچاري او يا دريمګړي رول ولوبوي، او پر ګاونډيو هيوادو په دي برخه کې باور او عمل هم زموږ د ګران هيواد او ولس په زيان دی.

**په مذاکراتو کې وقفه:**

د افغان حکومت او طالبانو مذاکراتي ډلو منلي چې د ډسمبر ۱۴مې، د جنورمې۵ ۲۰۲۱، د سولې خبرو کې وقفه راولي، کيدای شي لاندي لامونه  به ولري.

لومړی: د ښکېلو اړخونو ترمنځ پر اجنډا توافق شوی، اجنډا د مسايلو خلاصه ده، دواړه لوري اړتيا لري چې د اجنډا اړوند مسايلو پر جزياتو يې له خپلو مشرانو او تخنيکې ډلو سره سلا مشوري وکړي، مثلاً راتلونکي اسلامي نظام، اساسي قانون، د ميرمنو حقونه، د بيان ازادي او داسي نور مسايل.

دويم: داچې درې مياشتې د ښکېلو اړخونو د مذاکراتو غړي له خپلو کورنيو او دوستانو ليري پاتي شوي، ضرورت دی چې خپلو کورنيو ته ولاړ شي، ځکه افغان پلاوي په تکرار سره له دوحې څخه  کابل ته تلل غوښتل، خو د امريکا او نړيوالو لخوا فشار وو چې د کړنلاري او اجنډا تر منلو وروسته به دا کار کيږي، اوس هغه مهال را ورسيدی.

دريم: پتبيل شوې وه چې د طالبانو د مذاکراتي ډلې د غړو کورنی به قطر هيواد ته ورځي، مګر دا چاره په قصدي ډول د قطر هيواد لخوا وځنډول شوه، تر څو پر طالبانو هم فشار وي، چې په کړنلاره او اجنډا منلو کې انعطاف وکړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ